مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوالان: یحیی مدرسی او حسین بشیر نژاد
ژباړن: سیلانی
۲۰۲۰/۱۰/۱۹

# ژبه ولې، څنګه او څۀ ډول مري؟

## لومړی برخه

درنو لوستونکو! دا چې دا څېړنیزه لیکنه ډېره اوږده(۴۰ ) مخه ده. نو ستاسو د ستړیا او قیمتي وخت په نظر کې نیولو سره مې نومورې لیکنه پۀ څو برخو ووېشله، تر څو یاده لیکنه پۀ ډېرې حوصله مندی، خوند، آرآمه او انتقادي فکر ولولۍ.

لنډیز
نن ورځ د ژبې ټولنپېژندونکي پۀ دې باور دي چې ژبې هم د نورو ژوندیو ژویو پۀ شان یو ژوندی ژوی دی، چې د ژوند یو تدریجي دوران، لکه: پیدایښت، ماشومتوب، بلوغیت او د زوال مرحله تېروي. لۀ بله اړخه نني عصر د پراخو بدلونونو، پرمختګونو او تکنالوژی عصر دی، چې دا بدلونونه د ټولنې پۀ تکنالوژی،مادي فرهنګ، اکوسیستم او حتا زموږ پۀاخلاقي ارزښتونو کې د مشاهدې وړ دي. د یادو بدلونونو یو څرګنده ځانګړنه هغه ژبې دي چې نور، څوک پرې خبرې نۀ کوي. دا پدیده د ژبې مړینه او هغه لاملونه دي چې یادې موضوع ته لمن وهي. نومورې موضوعات د همدې مقالې سکالو ده.
د ژبې بدلون او لۀ منځه تلل د ژبې د مړینې معادل اصطلاحات دي. اچسون (۱۹۹۵: ۱۹۷ او ۱۹۸) د ژبې لۀ « ځان وژنې » او د « د ژبې له وژلو » خبرې کوي او وایي چې یاد اصطلاحات د ژبې د مړینې دوه ډولونه دي. ژبپوهان ژبو ته د ګواښونو او زیانونو د رسېدو مراحل او ډلبندی ترسره کوي یا پۀ بله وینا د هغو مراحلو ډلبندي کوي چې یوه ژبه د خطر په کومه مرحله کې ژوند کوي. کۀ نور یې هم ساده کړم هغه داچې ژبې د ګواښونو پر وړاندې ډلبندي کوي. لۀ دې ډلې څخه یو هم د ګرایمز ( ۲۰۰۲:۸) ډلبندي ده:

۱ ـ هغه ژبې چې خورا ډېرو ګواښونو سره مخامخ دي.
۲ ـ هغه ژبې چې ډېرو ګواښونو سره مخامخ دي.
۳ ـ هغه ژبې چې ګواښونو سره مخامخ دي.
۴ ـ هغه ژبې چې مخ پر زوال دي.
۵ ـ هغه ژبې چې ثابې او تلپاتې دي، مګر لۀ ګواښونو سره مخ دي.
۶ ـ روغې یا سالمې ژبې

د ژبې ساتنه او پالنه د ژبې د مړینې پر وړاندې یو اړین خوځښت دی. دا هغه واقعیت دی چې یوه ژبنیزه ټولنه پۀ دې پرېکړه وکړي، چې خپله بومي ژبه پالي او کاروي یې، ترڅو لۀ مړینې او ورکېدو څخه وژغورل شي. پرته لۀ شکه ډېر لاملونه شته چې د ژبې پۀ بدلون کې بنسټیز رول لري، خو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

فسولد ( ۱۹۸۷:۲۷۲) پهٔ آند دوه ګوني ژبې یا د دوو ژبو کارونه د ژبې دبدلون یو بنسټیز شرط دی، کهٔ څهٔ هم کافي نهٔ وي.
فسولد( ۱۹۸۷:۲۱۷) مهاجرت، ښاري ژوند، صنعتي کېدل، زده کړېزه ژبه او د ژبې ټولنیز باور هغه اړین لاملونه یادوي چې د ژبې پهٔ بدلون او ساتنه کې بنسټیز رول لري. ګرایمز: ( ۲۰۰۲: ۲او ۳ ) دوه ځانګړي لاملونه پهٔ پورتنیو لاملونو ور زیاتوي، لومړی: د ژبې ملي سیاست دویم: طبیعي آفتونه. دورین( ۱۹۹۹:۵) وایي: د ختیځې اروپا د صنعتي عصر پیل کې د ملي ګرایانه احساساتو لوړېدل تر ډېره بریده د وړو ژبو یا د وړو اقلیتونو د ژبو پهٔ لهٔ منځه وړلو کې رغنده رول درلود .
هغه پهٔ دې باور دی، چې یادو وګړو د بومي ژبو ویونکو یا کلیوالي ویونکو فکري دریځ د خپلې مورنۍ ژبې پهٔهکله تغیر کړی دی، کهٔ داسې نهٔ وي نو دیوې ژبې لهٔ منځه وړل ناشوني کار دی.
د ژبې بدلون پرته د ویونکو لهٔ فکري بدلون څخه ناشوني ده. ټولنیز، فرهنګي، اقتصادي او سیاسي لاملونه د د کم ارزښته ژبو پر وړاندې منفي افکار تقویه کوي، چې دا مسأله د معتبرو ژبو د زده کړې لهٔ پاره لاره هواره وي. د یادو لاملونو پایله د وړو اقلیتونو د سنتي ژبې مړینه ده.
ددې لیکنې بنسټیز سرلیکونه
د ژبې مړینه- د ژبې بدلون- د ژبې ساتنه- د ژبې لیدلوری- د ژبې اېډیولوژي- دوه ګوني ژبې- لهٔ ګواښونو سره مخ شوې ژبې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ